# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د فبرورۍ لومړۍ | ۶۷۳مه گڼه


## د حضور دوام ته پلمې، که د هوکړې ناکامي!؟

### ناټو وايي، شرايط نه دي اماده، ښايي له هوکړې سره سم له افغانستان و نه وځي



۳

**امريکا د خپلو ځواکونو د حضور دوام ته لاره جوړوي؟**

۲ مخ

**فاطميون؛ ايراني پلوه افغاني ملېشې**

۲ مخ

**چينايان به د ۲۰۲۱ کال په پسرلني اختر کې د سفرونو ريکارډ جوړ کړي**

۳ مخ

## قريشي: د افغان کړکېچ ښکېل لوري دې په پوره زغم سره خبرو ته دوام ورکړي

د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي يو ځل بيا د افغان کړکېچ پر سوله‌ييز حل ټينگار کړی دی او زياته کړې يې ده، چې په دغه هېواد کې د سولې لپاره رامنځته شوی فرصت بايد ضايع نه شي او ټولې غاړې دې په سړه سينه خبرو ته دوام ورکړي.

نوموړي د پاکستان په ملتان ايالت کې خبريالانو ته ويلي، دوی د افغان سولې په برخه کې ور تر غاړې مسووليت ادا کړی او له دې وروسته هم پوره هڅه کوي، چې روانې خبرې يوې پايلې ته ورسوي.

قريشي ويلي، خبرو ته د افغان جگړې د ښکېلو لورو حاضرول اسانه کار نه و؛ ځکه د ده په وينا، دواړه لوري له کلونو راهيسې له يو او بل سره په جگړې کې ښکېل دي.

د نوموړي په خبره، خبرو ته د دواړو لوريو کېناستل په خپله غوره پرمختگ دی او دوی هيله من دي چې روانې خبرې به هر څه ژر پړاو په پړاو پرمختگ ولري او مثبته پايله به ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مذاکراتي پلاوي او طالبانو ترمنځ خبرې يوځل بيا په ټپه درېدلي دي. دغه راز د مذاکراتي پلاوي مشرانو په جلا جلا توگه ايران او روسيې ته سفرونه کړي او له يادو هېوادونو سره يې د افغان سولې په تړاو خبرې کړې دي.

## مذاکراتي پلاوي: د سولې لپاره رامنځته شوی فرصت بايد له لاسه ونه وځي




۵ مخ

کاروبار


۴ مخ

## بوئينگ

د دغه شرکت تر ټولو مشهوره الوتکه ۷۴۷ ده، چې په يو وخت کې ۴۵۰ مسافر ځايولی شي او د نړۍ تر ټولو دې مشهورې او محبوبې الوتکې لقب يې گټلی دی.



## کرنې وزارت: روان کال په هېواد کې د چرگانو د روزنې ۱۹سوه فارمونه فعال شوي



کرنې وزارت وايي، چې روان کال په هېواد کې د چرگانو د روزنې ۱۹سوه غيرفعال فارمونه بيا فعال شوي دي.

د سرچينې په خبره، په يادو ۱۹سوه فارمونو کې لوی او واړه فارمونه شامل دي، چې واړه فارمونه يې د کرنې وزارت د مالدارۍ لوی رياست په تخنيکي مشورې او مرستې د خصوصي سکټور له لارې او لوی فارمونه يې د کرنې وزارت په همغږۍ د امريکا د نړېوالې پراختيايي ادارې د ځنځيري ارزښت پروژې له خوا د ۷۰ سلنه لگښت په ورکولو سره بيا فعال شوي دي. کرنې وزارت وايي، چې په افغانستان کې د چرگانو روزنې فارمونه جوړول لويه لاسته راوړنه ده، چې د کارموندنې، اقتصادي پياوړتيا، ځان بساينې او د اقتصادي ودې او پرمختيا لامل کېږي د ياد وزارت چارواکي وايي چې دوی د چرگانو روزنې د فارمونو او د چرگانو د غوښو او هگيو د توليداتو د ډېرولو ترڅنگ د فارمي چرگانو روغتيايي برخې ته هم پاملرنه کړې ده.

## ولسی جرگه: امضای اجمل احمدی در بانکنوت های جدید مشروعيت ندارد




ولسی جرگه، درحالی امضای اجمل احمدی دربانکنوت های جدید را خلاف قانون می داند که (د افغانستان بانک)، گفته است در بانکنوتهای تحت قرارداد، سرپرست کنونی نه، بلکه سرپرست سابق بانک امضا کرده است.

همچنان يک منبع در ولسی جرگه می گويد که اين جرگه، چاپ بانکنوت های جديد را تا زمانی معطل قرار داده است که شخصی به حيث رئيس بانک، رای اعتماد اين جرگه را بگيرد.

اجمل احمدی که از سوی حکومت برای رياست د افغانستان بانک (بانک مرکزی) معرفی شده بود، در دوازدهم قوس سال روان، در ولسی جرگه برای او صندوق رای گذاشته شد؛ اما رای اعتماد نمايندگان مردم را کسب نکرد.

احمدی با آنکه نامزدی اش برای رياست اين بانک از سوی جرگه رد شده است؛ اما به حيث سرپرست بانک به کارش ادامه می دهد. او پيش از معرفی به عنوان نامزد رئيس دافغانستان بانک به ولسی جرگه نيز برای حدود شش ماه در حالی به حيث سرپرست اين بانک کار کرده است که بر اساس قانون سرپرستی، هيچ کس نمی‌تواند در ادارات دولتی، بيش از دو ماه به حيث سرپرست کار کند.

بر بنياد برخی گزارشها، برخی اعضای ولسی جرگه گفته اند که اجمل احمدی، تلاش دارد امضای خودش را در بانکنوت های افغانی درج کند. به نقل از منبع، آنان گفته اند که از همين رو احمدی قرار است به پولند برود.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرليکنه

### امريکا د خپلو ځواکونو د حضور دوام ته لاره جوړوي؟

د امريکا نوي حکومت د خپل کار له پيل سره سم وويل چې له طالبانو سره د امريکا هوکړه به له سره ارزوي. که څه امريکايي چارواکو ويلي چې دا هوکړه به عملي کوي، خو له خبرو يې ښکاري چې دوی د طالبانو له اړخه د دې هوکړې پر عملي کېدو ډاډه نه دي. تر اوسه پورې داسې ښکاري چې د امريکا له خوا د هوکړې د ارزونې پايله همدا ده يا ارزونه د همدې لپاره وه چې طالبانو هوکړه په ښه ډول نه ده عملي کړې. د تاوتريخوالي دوام او له القاعدې سره اړيکې هغه مسايل دي چې امريکا وايي، طالبانو پرې هوکړه نقض کړې ده.

نو امريکا د دغو خبرو په کولو سره له طالبانو څه غواړي؟

طالبان وايي چې دوی هوکړه عملي کړې او امريکا يې هم بايد عملي کړي، خو د امريکا له خوا د هوکړې پر نقض د طالبانو تورنول دا پيغام ورکوي چې ګواکې دوی هم حق لري چې دا هوکړه نقض کړي. اوس خبره د هوکړه د يو مخ لغوه کېدو نه ده، ځکه چې دا چاره نه امريکا غواړي او نه يې هم په ګټه ده، خو دوی غواړي له خپله اړخه د هوکړې يو لوی نقض ته لاره هواره کړي. داسې ښکاري چې امريکا غواړي په افغانستان کې د خپلو ځواکونو حضور وغځوي او د دې لپاره په لارو چارو او پلمو پسې ګرځي. د طالبانو او امريکا د هوکړې پر اساس په راتلونکو دريو مياشتو کې بايد ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. اوس په امريکايي دريځونو کې محسوسېږي چې دوی غواړي د خپلو ځواکونو حضور وځنډوي. همداسې يو رپوټ رويټرز هم د يوه امريکايي چارواکي په حواله خپور کړی دی. امريکايي چارواکي به استدلال کوي چې د ځواکونو وتل مشروط وو او شرط د طالبانو له خوا د هوکړې عملي کول و، چې پکې د تاوتريخوالي کموالی او له القاعده سره د اړيکو پرې کول هم شامل دي. اوس به امريکايي چارواکي پر همدې استناد وکړي، پلمه به جوړه کړي او د خپلو ځواکونو پاتې کېدو ته به لاره پرانيزي. دا چې پرون د اروپايي اتحاديې، امريکا، برېټانيا او ځينو نورو هېوادونو له خوا په ګډه اعلاميه کې پر طالبانو د تاوتريخوالي د زياتولو، هدفي وژنو او نورو ناوړه کړنو تورونه لګول شوي، دا هم د همدې هڅې يوه برخه ده چې امريکا غواړي پر طالبانو فشار راولي، څو د سولې هوکړه نقض کړي او د خپلو ځواکونو حضور تر څو نورو مياشتو هم وساتي.

له بده مرغه په دې هر څه کې هغه سوله هېره شوې چې افغانان يې غواړي. طالبانو فکر کاوه چې امريکا به ورسره کړې ژمنې عملي کوي، دوی له همدې سره جګړه هم روانه وساتله، ښارونو ته سختې وژونکې څپې را ورسېدې. حکومت بيا د واک د دوام لپاره د سولې مخالفت ته زور ورکړ. د دې ټولو پايله همدا يوه وه، چې د افغانستان خلکو ته يې زيان واړاوه. که لوبه همداسې روانه وي، هغه سوله نشته چې خلک يې غواړي، جګړه به دوام کوي، حکومتي چارواکي به د خپلې واکمنۍ دوام ته کار کوي، امريکا به د خپل حضور او نورو ګټو په هڅه کې وي، طالبان به په زور او جګړه ټينګار کوي او قرباني به يوازې د افغانستان مظلوم خلک وي.

# فاطميون؛

## ايراني پلوه افغاني ملېشې

ليکوال: ضياءالاسلام شېراني

په ايران کې د فاطميون پوځي لېوا مسوولينو له ايراني رسنيو سره په خپلو تازه څرګندونو کې ويلي، چې د سورېې جګړه کې دوه زره افغانان وژل شوي او له اتو زرو څخه زيات يې ټپيان شوي دي. فاطميون چې خپله جګړه د «سپېڅلو ځايونو د ساتنې جهاد بولي» او په وينا يې پرته له دې چې کومه پوله په پام کې ونيسي، دوی به دا جګړه کوي، هغه لېوا ده چې ډېری جنګيالي يې د افغانستان شيعه مذهبه هزاره وګړي دي او تر دې دمه يې په زرګونه افغانان د سورېې، يمن او عراق جګړو ته د داعش پر ضد روزلي او لېږلي دي.

په ايران کې د دې فعالې وسلهوالې ډلې، يادې خطرناکې چارې د کور دننه په افغانستان کې له لومړي سره ډېر بحثونه راپورته کړي وو؛ خو دې بحثونو له هغې وروسته چې د اجرائيه رياست دويم مرستيال محمد محقق په تهران کې يوې ناستې ته د وينا پر مهال د ټولو افغانانو په شمول، د داعش خلاف د ايران په ملاتړ د جنګېدونکو وسلهوالو ستاينه وکړه، لا زور واخيست او په افغانستان کې يې رسمي او غير رسمي توند غبرګونونه راوپارول.

د محقق دا څرګندونې ولسمشرۍ ماڼۍ، اجرائيه رياست، د افغانستان ملي شورا او ډېرو سياستوالو رد کړې او ټينګار يې وکړ چې دا د افغانستان د حکومت او خلکو دريځ نه دی. ډېری افغانان له دې اندېښنه لري چې د ايران له لوري د نورو هېوادونو په نيابتي جګړو کې د افغانانو جنګول به د دې لامل شي چې افغانستان هم په دې اور وسوځي.

**فاطميون څوک دي؟**

په ايران کې د واک په ګدۍ ناست اوسني اخوندان ځانونه په نړۍ کې د شيعه مذهبو مسلمانانو د ټولو نظرياتو صادروونکي، مشران او مدافعين ګڼي. ايران په نورو هېوادونو کې د خپلو نيابتي جګړو د مخته وړلو لپاره مختلفې وسلهوالې ډلې جوړې کړې دي، دا ډلې په مجموع کې د «مدافعين حرم» په نوم يادېږي چې يوه يې هم «فاطميون» يا «لشکر فاطميون» ده.

فاطميون د افغان شيعه مذهبو څخه جوړه شوې پوځي ډله ده چې د ايران سپاه پاسداران له لوري په مستقيمه توګه اکمال او حمايه کېږي. د شته معلوماتو له مخې، يادې پوځي ډلې د «لشکر فاطميون» په نوم په ۱۳۹۰ لمريز کال کې خپل موجوديت رسمي اعلان کړ، چې بنسټ ايښودونکی يې هم علي رضا توسلي مشهور په ابوحامد، ګڼل کېږي او په ۱۳۹۳ لمريز کال کې وژل شوی دی.

د فاطميون لښکر وسلهوال په افغانستان کې د ايراني اخوندانو په پوره اکمال او خوښه د شوروي اتحاد د ځواکونو او طالبانو پر ضد هم جنګېدلي دي؛ خو اوسمهال په سوريه، عراق، لبنان او يمن کې د شيعه مذهبو په ملاتړ له نورو وسلهوالو ډلو سره پر جګړه بوخت دي.

د دې ډلې لپاره د افغانستان دننه، ايران او سوريه کې مېشت شيعه مذهبي افغانان په ايران کې د اقامې تر لاسه کولو، مياشتني معاش او نورو امکاناتو په بدل کې د «سپاه قدس» له لوري د «فاطميون لښکر» لپاره جذبېږي. داسې هم ويل کېږي چې په دوی کې يوه برخه د لبنان له حزب‌الله سره بوخت دي او له کابل او نورو ولايتونو هم د جګړو لپاره کسان جذبوي.

**فاطميون افغانستان ته يو ستر ګواښ**

فاطميون يا ايراني پلوه افغاني ملېشې چې د ايران سپاه پاسداران له لوري په نورو هېوادونو کې د دې هېواد په ملاتړ نيابتي جګړو کې جنګول کېږي، پر افغان جګړه او د افغانستان پر وضعيت هم په مستقيمه توګه اغېز لري.

په سوريه کې د واکمن بشارالاسد له لوري د اسلامپالو پاڅونونو ځپل، د دې لامل شول چې د نړۍ د نورو مسلمانانو په ګډون افغانان هم غبرګونونه وښيي. دا غبرګونونه د ټولنيزو رسنيو له لارې پر غندلو او لاريونونو پيل او بالاخره د دې لامل شول چې ځينې افغانان د بشارالاسد پر ضد او ملاتړ د جنګېدو په موخه سورېې ته ولاړ شي.

په عمومي توګه د بشارالاسد پر ملاتړ ډېری افغان شيعه وګړي سورېې ته تللي او د بشارالاسد پر ضد ځينې افغان سُني وګړي هم په جګړو کې بوخت دي. که څه هم په سوريه کې په مجموعي ډول د افغان جنګياليو شمېر دقيق معلوم نه دی؛ خو د رسنيو د راپورونو پر اساس، د سورېې په جګړه کې د جنګېدونکو افغان شيعه وګړي شمېر زرګونو تنو ته رسېږي چې اکثريت يې د «لشکر فاطميون» وسلهوالې ډلې تر چتر لاندې فعاليت کوي.

په سوريه او نورو هېوادونو کې د پرديو د ګټو لپاره د افغانانو وينه تويول، له يوې خوا په نيابتي جګړو کې د افغانستان ښکېلتيا په ډاګه کوي چې دا چاره به تر ډېره د افغانستان او عربي نړۍ هېوادونو پر اړيکو منفي اغېز وکړي او له بلې‌خوا د پرديو د ګټو لپاره دا ډول وينه تويونه په ښکاره توګه د افغانستان پر امنيتي وضعيت بد اغېز کولی شي.

**په دې تړاو څو ټکي د پام وړ دي**

لومړی؛ که چېرې افغان شيعه مذهبي وګړي سورېې او نورو هېوادونو ته په عقيدوي لحاظ د شيعه مذهبو په ملاتړ تللي وي، پرته له شکه په مذهبي لحاظ ستر افراطيان ترې جوړېږي او افغانستان ته د دې ډول کسانو بيا راګرځېدل، له ځان سره دا خطر هم لري چې له افغان سُني مذهبو سره به يې ټکر راځي او همدا ټکر به مذهبي جګړو ته لار هواره کړي.

دويم؛ که چېرې دا کسان د پيسو په خاطر تللي وي، نو بيا يې هم راتګ افغانستان ته ستر سرخوږی دی، ځکه دوی د ټوپک له ميله روزي پيدا کولو باندې عادت شوي، ښايي دلته هم همدا ټوپک د روزي پيدا کولو لپاره وکاروي چې پايله به يې تر ډېره د داخلي اختلافاتو او شخړو رامنځته کول وي.

دريیم؛ که ايران يادې ډلې د سورېې د جګړې له پای ته رسېدو بېرته راستنې کړي، منحلېدل خو يې ډېر ناشونې ښکاري؛ خو د افغانستان په ګډون به يې ځينو هغو سيمو ته چې دی له خپل ستر رقيب، سعودي عربستان سره پکې ښکر په ښکر دی، شايد وليږي. له دې سره نو افغانستان ته د ايراني نظام د ايډيالوژۍ په ملاتړ د يادو ډلو راتګ هم افغانستان ته يو ګواښ کېدای شي.

له دې ټولو ورهاخوا په اوسمهال کې په سوريه، عراق او يمن کې فاطميون وسلهوال په مستقيمه توګه له داعش ډلې سره پر جګړه بوخت دي، همدا جګړه د دې لامل شوې چې داعش ډله د افغانستان دننه خپل بريدونه زيات کړي او د ډېری بريدونو موخه يې په افغانستان کې شيعه مذهبي دي.

**افغان دولت دې فاطميون جدي ګواښ وګڼي!**

د ايران له لوري د سورېې او نورو هېوادونو جګړو ته د افغانانو د لېږلو په اړه وخت ناوخت نړيوالې او سيمه ييزې رسنۍ رپوټونه خپروي. يادو رپوټونو کې ويل کېږي چې ځينې افغانان د بې وزلۍ او مذهبي دلايلو له امله د ايران واکمن نظام په پلوۍ په مختلفو هېوادونو کې جنګېږي.

په دې اړه د بشري حقونو د څار ډلې هم په خپل خپاره شوي راپور (۱۳۹۶ د ميزان نهمه) کې ويلي وو چې د ايران سپاه پاسداران ډله هغه افغان زلميان چې عمرونه يې له ۱۵ کلونو کم دي، د سورېې جګړې ته لېږي.

د ايران واکمن نظام له لوري سورېې يا بل هېواد ته د افغان وګړو لېږل يا هم هلته وژل کېدل کومه نوې خبره نه ده، دا چاره له کلونو راهيسې روانه ده او تر دې دمه ښايي زرګونه تنه پټ او ښکاره پکې وژل شوي او ټپيان شوي وي.

افغان حکومت د هر وخت په شان دا ځل هم د سورېې په جګړه کې د دوه زره افغانانو وژل کېدو د خبر خپرېدو په غبرګون کې چې تازه ايراني رسنيو خپور کړی، ويلي: «افغانستان په کور دننه او بهر د نيابتي جګړې مخالف دی او نور بايد د افغانانو وينې د پرديو ګټو لپاره تويې نه شي.»

د يادې قضيې په اړه د افغان حکومت دا دول دريځ نه يوازې دا چې د ايران حکومت له لوري د دې چارې د مخنيوي سبب نه شي کېدای، بلکې افغانستان به له سخت ګواښ سره هم مخ کړي.

افغان حکومت بايد دا موضوع ډېره جدي ونيسي، له يوې خوا دې پر ايران د ډيپلوماټيکو هلو ځلو له لارې خپل او نړيوال فشار زيات کړي او له بلې خوا دې هڅه وکړي چې هغه کسان تر سختې څارنې لاندې ونيسي چې په ښکاره د فاطميون له وسلهوالو ملاتړ کوي او داسې ښکاري چې همدا کسان يې په افغانستان کې د جلب او جذب مسووليت هم پر غاړه لري. که نه يو وخت به افغانستان هم د سورېې پر برخليک اخته شي او هغه مهال بې يې کابو کول بيا يو ګران کار وي.

## اروپايي ټولنه: طالبان دې ژر تر ژره هدفي بريدونه او تاوتريخوالی پای ته ورسوي

اروپايي ټولنې او په افغانستان کې د دې ټولنې د غړو هېوادونو سياسي استازواليو طالبان په دغه هېواد کې د ډېريو هدفي بريدونو مسوول ګڼلي او د يادو بريدونو د بندېدو غوښتنه يې کړې ده.

اروپايي ټولنې په يوې اعلاميې کې هدفي بريدونه، سرې تښتونې او د زېربناوو ورانول غندلي او زياته کړې ده چې د طالبانو ياد بريدونه د حکومتي بنسټونو د کمزورې کېدو لامل کېږي.

د يادې ټولنې په اعلاميه کې راغلي: «طالبان د دا ډول هدفي تاوتريخوالو د ډېری پېښو مسووليت پر غاړه لري او د دوی بريدونه دولتي اداري کمزورې کوي او د يو نا امنه چاپېريال له رامنځته کېدو سره مرسته کوي چې په هغه کې تروريستي او جنايتکارې ډلې کولی شي، په ازاده توګه فعاليت وکړي.»



اروپايي ټولنې دغه راز طالبانو ته ګواښ کړی چې دوی بايد پوه شي، چې د تاوتريخوالي دوام او ورانوونکې کړنې يې نړۍ په غوسه کوي. په اعلاميه کې راغلي، چې په دغه هېواد کې د سولې ټينګېدو لپاره بايد تاوتريخوالی پای ته ورسېږي.

اروپايي ټولنې د هدفي بريدونو ترڅنګ د زېربناوو او ټولګټو تاسيساتو پر ورانولو باندې هم اندېښنه ښودلې او هغه يې غندلي دي. يادې ټولنې له طالبانو غوښتي، چې د زېربناوو او نورو حياتي پروژو په نه ورانولو سره دې په افغانستان کې د سولې ټينګېدو لپاره خپله ژمنتيا وښيي.

په اعلاميه کې راغلي: «موږ تمه لرو، چې طالبان تاوتريخوالي، د حياتي زېربناوو ويجاړولو ته د پای ټکي په اېښودلو او سولې ته په ژمنتيا سره د افغانستان د ټولو خلکو په ګټه، له افغانستان خلکو څخه خپل ملاتړ وښيي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې په افغانستان کې مېشتو نړيوالو ځواکونو او افغان حکومت هم طالبان د تاوتريخوالي په زياتېدو او هدفي بريدونو په تر سره کېدو تورن کړي، خو طالبانو ويلي چې په هدفي بريدونو کې دوی لاس نه لري.



# چینایان به د ۲۰۲۱ کال په پسرلني اختر کې د سفرونو ریکارډ جوړ کړي

لیکوال: شي مونگ
ژباړنه: سپوږمۍ

پسرلنی اختر یانې نوی کرنیز کال د چینایانو لپاره تر ټولو مهم دودیز اختر دی. د دود له مخې، زیاتره چینایان د پسرلني اختر د لمانځنې او د نوي کرنیز کال د هرکلي لپاره بېرته خپل ټاټوبي ته ځي او له کورنیو سره راغونډېږي، نو ځکه هر کال د پسرلني اختر په شپو ورځو کې د چین کورنۍ ترانسپورټي شبکې تر ډېر فشار لاندې وي، چې دغه موده د پسرلني اختر د ترانسپورټي بیروبار په نامه یادېږي. د چین د دویزې کرنیزې جنترۍ له مخې، د ۲۰۲۱ کال د فبرورۍ ۱۲مه به د نوي کرنیز کال لومړۍ ورځ وي، نو د سږ کال د پسرلني اختر ترانسپورټي بیروبار به د جنورۍ له ۲۸مې د مارچ تر ۸مې پورې د ۴۰ ورځو لپاره دوام ولري او د یو رسمي خبر له مخې ښایي په دې موده کې چینایان په خپل هېواد کې د الوتکو، اورګاډو او بسونو په وسیله د ۱.۷ میلیارډو ځلو لپاره سفرونه وکړي. په چین کې د کرونا وبا د مخنیوي او کنټرول کارونه په عادي ډول روان دي. اوسمهال ژمی دی، که ډېرى خلک سره یو ځای راغونډېږي او سفرونه وکړي، د کرونا وبا د خپرېدو شونتیا به زیاته شي، نو د چین مرکزي حکومت څو ورځې دمخه ولسي خلکو ته داسې وړاندیز وکړ چې د کار په ځای کې پسرلنی اختر ولمانځي او د کرونا وبا د مخنیوي او وقایې په پار ټاټوبي ته بېرته ولاړ نشي. دا یوه اجباري تګلاره نه ده. په دې اثر ښایي د سږني پسرلني اختر ټرانسپورټي بیروبار لږ څه کم شي. له دې سره سره ۱.۷ میلیارده لا هم ډېر زیات شمېر دی. دا چې څنګه د مختلفو ترانسپورټي وسیلو د امن روانېدو تر څنګ د خلکو ترمنځ د وبا خپرېدو مخنیوی او په ترڅ کې یې د دوی د ارامتیا او سوکالۍ تامین وشي، د چین د کورني ټرانسپورټي شبکې او سیستم لپاره به یوه ستره ازموینه وي.

له تېرو څو کلونو راهیسې د چین په دننه کې ټرانسپورټي بنسټیز تاسیسات ډېر جوړ او بشپړ شوي دي چې د عامو خلکو تګ راتګ ته یې زیاتې اسانتیاوې برابرې کړې دي. د ۲۰۱۹ کال تر پایه پورې په چین کې د سړکونو عمومي اوږدوالی له ۵ میلیونو کیلومترو څخه زیات دی چې له دې جملې څخه څه باندې ۱۵۰ زره کیلومتره یې پاخه سړکونه دي. تر همدې مهال د چین د ملکي هوایي کرښو عمومي اوږدوالی هم ۲۳۰ زرو کیلومترو ته رسېدلی دی. د ۲۰۲۰ کال تر پایه پورې په چین کې د هغو پټلیو اوږدوالی ۱۴۶ زره او ۳ سوو کیلومترو ته رسېدلی چې ور باندې مختلف اورګاډي تګ راتګ کوي او پکې د چټکو اورګاډیو لپاره د ۳۷ زره او ۹سوه کیلومترو په اوږدوالي ځانګړې پټلۍ شاملې دي. د چټکو اورګاډیو تر ټولو چټک سرعت په هر ساعت کې ۳۵۰ کیلومترو ته رسېدای شي. د اورګاډیو سرعت په چټکتیا سره زیات وخت سپمول کېږي او مسافرین په لا هوساینې سره سفر کوي. ځینو افغان ملګرو چې په چین کې یې د چټک اورګاډي په وسیله سفر کړی، راته وویل چې دغه ډول چټکه او پرمختللې ټرانسپورټي وسیله ډېره د ستاینې وړ ده او چین اوس د چټک اورګاډي په شان ډېر چټک پرمختګ کوي.

بشپړ عمومي خدمتونه د چین د ټرانسپورټي شبکې د ملا قوي تیر دی. په چین کې نه یوازې مختلفې چټکې او پرمختللې ترانسپورټي وسیلې تګ راتګ کوي، بلکې په دغه پیچلي او ستر ټرانسپورټي سیستم کې مسافرینو ته موثر، جدي او بشپړ خدمتونه هم برابروي. چیني خبري رسنیو خبر ورکړ چې زیاتره چینایان پر حکومت باور لري او د حکومت وړاندیز یې منلی دی، نو د جنورۍ په ۲۸مه د چین د اورګاډیو او بسونو په سترو سټېشنونو او تمځایونو او هوایي ډګرونو کې د حاضرو مسافرینو شمېر د تېرو څو کلونو د همدې مهال په پرتله ډېر کم ښکاري. د دغه هېواد د اورګاډو او ملکي الوتنو اړوندو څانګو هم له یاد حکومتي وړاندیز سره سم د ټکټ د بېرته ورکولو او بدلولو نوې تګلارې پلې کړې څو بې شمېره مسافرین په اسانه توګه د ټکټ پلورونکو ځایونو، اړوندو ویپاڼو او اپلیکېشنونو له لارې خپل سفرونه کېنسل یا بدل کړي. د کرونا وبا د مخنیوي او وقایې لپاره اوس د چین د اورګاډو او بسونو په مختلفو لویو سټېښشنونو، تمځایونو او هوایي ډګرونو کې د بدني تودوخې د اتوماتیک چېک ماشینونه او د روغتیا QR کوډ د سکېن کولو سامان الات هم سمبال دي. پر دې سربېره، کارکوونکي په اورګاډو، بسونو او الوتکو کې هم له ټاکلي مهال ویش سره سم هره ورځ څو ځله میکروب ضد دوا پاشي او مسافرینو ته د بدني تودوخې د معاینه کولو خدمتونه برابروي.

۲۰۲۱ کال کې به د چین د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ د ۱۴م پنځه کلن پلان پیل شي. چینایان به د پخوا په شان د خپل حکومت تر لارښوونې لاندې خپله اصلي موخه په یاد کې ولري او په خپلو دندو کې به نه ستومانه کېدونکې هلې ځلې وکړي. دا چې د ښکلي ژوند په اړه د عامو خلکو ډول ډول اړتیاوې پوره کړي، له ټولو وطنوالو سره د چین کمونېست ګوند جدي ژمنه ده. د چین حکومت هم څو څو ځله څرګنده کړې، چې د پرمختګ د نوي حالت په ابادولو سره د مختلفو هېوادونو تود هرکلی هم کوي چې د چیني پرمختګ په دغه چټک اورګاډي کې سپاره وي او ګډ پرمختګ وکړي.

# د حضور دوام ته پلمې، که د هوکړې ناکامي!؟

## ناټو وايي، شرایط نه دي اماده، ښايي له هوکړې سره سم له افغانستان و نه وځي



په افغانستان کې د جګړو له دوام سره هممهاله نړیوالې رسنۍ وايي چې ښايي امریکا د دوحې له هوکړې سره سم له افغانستان خپل سرتېري و نه باسي. رویټرز ته د امریکا په حکومت کې یو شمېر باوري سرچینو ویلي چې د بایډن اداره ښايي تر مې میاشتې وروسته هم په افغانستان کې خپل حضور ته ادامه ورکړي. دا خبره په رسمي توګه امریکایي حکومت نه ده تایید کړې، خو ځینو نورو امریکایي رسنیو هم ویلي چې ښايي بایډن د سرتېرو د حضور په برخه کې اقدام وکړي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ له رامنځ ته شوي تړون میاشتې تېرېږي، خو تر دې دمه داسې ښکاري چې دغه تړون کومه بریا نه لرله. تازه په ناټو کې یو شمېر سرچینو رسنیو ته ویلي چې بهرني ځواکونه به د اپرېل په پای کې له افغانستان و نه وځي، بلکې د خپلو سرتېرو حضور ته به ادامه ورکړي. په ناټو سازمان کې دې سرچینې ویلي، تر اوسه پورې شرایط په هېڅ صورت له افغانستان څخه د بهرنیو سرتېرو ایستلو ته نه دي برابر شوي او ښايي د بایډن اداره د سرتېرو حضور وغځوي. سرچینې د نامه نه ښودو په شرط ویلي: «د اپرېل په پای کې ښايي د ناټو د متحدینو سرتېري له افغانستان و نه وځي، ښايي د سرتېرو حضور دوام وکړي».


دغې سرچینې همدا راز ویلي چې د سرتېرو د ایستلو لپاره شرایط نه دي برابر شوي او د امریکا نوی حکومت هم نه غواړي چې د بېړې تګلاره عملي کړي. په ناټو کې دغه مهمې امنیتي سرچینې رویټرز ته ویلي چې ښايي امریکایي حکومت د افغانستان په اړه پر خپله تګلاره بیا کتنه وکړي، د سرتېرو د وتلو تګلاره به بدله شي او په نوې او حساب شوې توګه به سرتېري له افغانستان ایستل کېږي. د ده به خبره: «شرایط نه دي برابر شوي، د امریکا نوی حکومت هم نه غواړي بېړه وکړي، په تګلارو کې به بدلون راشي او د بهرنیو وتلو مخه به و نیول شي، نو په دې توګه به د وتلو لپاره یوه حساب شوې او منظمه تګلاره ولرو».

د ناټو سازمان سره له دې چې دغه خبره نه ده تایید کړې، خو وايي چې د سرتېرو د ایستلو په برخه کې د ناټو هېڅ متحد هم په یوازې ځان پرېکړه نه کوي. د ناټو یوې ویاندې اونا په خپلو څرګندونو کې ویلي، د ناټو ټولو متحدینو دا واضح کړې چې شرایطو ته په پام به په افغانستان کې د خپل حضور او وتلو په اړه پرېکړه کوي. د نوموړې په وینا: «زموږ هېڅ متحد نه غواړي چې تر اړتیا ډېر په افغانستان کې پاتې شي، خو دا بیخي روښانه ده چې په افغانستان کې زموږ حضور په شرایطو پورې تړلی دی، موږ به وضعیت له نږدې ارزوو او تر هغه وروسته به په ګډه په دې اړه پرېکړه کوو».

افغان حکومت تر اوسه په دې اړه هېڅ راز غبرګون نه دی ښودلی او نه هم طالبانو تازه په دې اړه څه ویلي دي، خو تر دې وړاندې یې خبرداری ورکړی و چې که بهرني عسکر په ټاکلې موده له افغانستان و نه وځي، نو پر دوی به سخت بریدونه وکړي. په سیاسي برخه کې یو شمېر شنونکي بیا پر دې باور دي چې امریکا په افغانستان کې د خپل دایمي حضور لپاره پلمې لټوي. د دوی په وینا، امریکا د سولې د نه بریا، ترهګرو ډلو، القاعده او نورو مسایلو په پلمه کولو غواړي په افغانستان کې خپل حضور ته ادامه ورکړي او جګړې وغځوي.

بلخوا تازه د امریکا د ملي امنیت سلاکار جک سلیوان هم ویلي چې دوی په افغانستان کې د سولې له پروسې ملاتړ کوي، خو باید ډاډ تر لاسه کړي چې دغه پروسه اغېزناکه ده، طالبان په رښتیني توګه مذاکرات کوي او رواني خبرې یې تېر ایستنه نه ده. له دې سره جوخت د امریکا ان بي سي نیوز هم په یوه راپور کې ویلي وو، چې بایډن ته د افغان سولې اوسنۍ کاواکه بهیر د منلو نه دی او ښايي په دې اړه ډېر ژر نوي اقدامات ترسره کړي.

# ایران: د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون پر خپل ځای دی، هر ډول بدلون پکې د منلو نه دی



د ایران د بهرنیو چارو وزارت وايي چې د نړۍ له قدرتونو سره د ۲۰۱۵ز کال په شوې اټومي هوکړه کې هر ډول بدلون ورته د منلو نه دی. ایراني رسنیو د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزارت د ویاند سعید خطیب‌زاده له قوله ویلي، د نړۍ له قدرتونو سره د ایران پر اټومي تړون نوې خبرې نه کېږي او غړي هېوادونه یې هم د بدلون وړ نه دي.

دا څرګندونې وروسته له هغې کېږي، چې د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون په دې وروستیو کې وویل چې له ایران سره د اټومي معاملو په هر ډول خبرو کې باید سعودي عربستان شامل وي. مکرون په یوه خبري غونډه کې ویلي، دې ته ډېر کم فرصت پاتې دی چې اټومي وسلې ته د ایران د رسېدو مخنیوی وشي. د العربیه ټلوېزیون د راپور له مخې، د فرانسې ولسمشر دا هم ویلي چې د ایران د اټومي معاملې په اړه هر ډول نوې خبرې به سختې وي.

بلخوا سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو ویلي چې د خلیج عربي هېوادونه هم باید په دغو خبرو کې شامل وي. دوی دغه‌راز ویلي، له ایران سره په خبرو کې باید د ایران د بالسټیک توغندیو په تړاو او په منځني ختیځ کې له نیابتي جګړه کوونکو د ایران د ملاتړ په تړاو بحث وشي.

د یادونې ده چې د ایران او د نړۍ د شپږو قدرتونو ترمنځ په ۲۰۱۵ز کال کې اټومي تړون لاسلیک شو. کله چې د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په مشرۍ امریکا په ۲۰۱۸ز کال کې له دې تړونه ووتله، نو ایران کړې یو شمېر ژمنې ماتې کړې.

ایراني چارواکو ویلي، په کلني ډول ۱۲۰ کیلو ګرامه یورانیم تر ۲۰ سلنې کچې پورې پخوي او تولیدوي یې. دا هغه کار دی چې د اټومي تړون د ژمنو خلاف بلل کېږي. اوس د جو بایډن په مشرۍ د امریکا نوې ادارې ویلي، که ایران په دغه اټومي تړون کې په خپلو ژمنو عمل وکړي، دوی لېواله دي چې بېرته په دغه تړون کې شامل شي.


په ورته مهال بایډن د جنورۍ په ۲۹مه راب مَلي د ایران لپاره د خپل ځانګړي استازي په توګه وټاکه. مَلي د امریکا د پخواني ولسمشر بارک اوباما لوړپوړی سلاکار و او له ایران سره د اټومي تړون پر مهال د امریکا د مرکچي ډلې کلیدي غړی و.

## د کتـــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسدورانی او اديتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي





سپېنها: نو تاسې د جنرال صېب خبره تاییدوی؟
دولت: نه داسې نه ده، نه یې تاییدوم.
تاسو د مودي د دورې د نیمایي تېرې شوې برخې پوښتنه وکړه. په دغه موده کې ښه نه وه.آن د ده ستایونکي لا حیران دي چې دا څه وشول.
«هارېش خاري» لیکلي دي چې وروستي انتخابات د «Harish Khare» پر خلاف بری و. پر «Harish Khare» سربېره پورتنۍ منځنۍ طبقې گومان کاوه چې حالت ښه روان دی او له مودي سره به نور هم ښه شي. خو داسې و نه شول.
سپېنها: د مودي یو کال پاتې دی، پاکستان یې راتلونکي ته په کوم نظر گوري؟
دورانی: اول دا چې دی به د دویمې دورې لپاره ټاکل کېږي. دویمه خبره دا ده چې که مودي په واک کې پاتېږي او که نه، اداره به ورسره بدله شي، خو اړیکې به هماغه شان پاتې وي. کله کله بیا دا اړیکې یو څه ارامې وي، لکه د واجپای یا د منموهن سېنگ په وختونو کې. درېیمه خبره دا ده چې په هند کې حاکمه فضا داسې ده چې ان عام خلک به لا وایي چې د بل گام اخیستلو ته اړتیا نه وه.
سپېنها: جنرال صېب وایي چې که مودي د ۲۰۱۹ کال ټاکنې هم وگټي، نو موجوده اوضاع به ورسره بدله نه شي. مودي به ټاکنې وگټي، تاسو پکې څه وایاست ؟
دولت: مودي به احتمالاً ټاکنې وگټي، خو ده ته به د ډېر کار کولو اړتیا وي. کانگرېس او نورې اپوزېسیون ډلې به ورته سرخوږی جوړوي. خو د هندي رایه ورکوونکو څه درک نشته، دی ډېر کله هر څوک تېر ایستلی شي. مودي به حیران شي.
سپېنها: د هند-پاکستان اړیکو کې به بدلون راشي؟
دولت: زه د جنرال صېب سره ډېر موافق نه یم. دی وایي چې تل به همداسې وي، د لوبغاړو بدلېدل ډېر فرق نه کوي. خو د واجپای او مودي تر منځ ځمکه او اسمان هومره، ښکاره توپیرونه شته. واجپای یو ډېر لوړ شخصیت و، فلیسوف و، خو متأسفانه چې ډېر وروسته لومړی وزیر شو چې دغه مهال یو محتاط سپین ږیری و. خو بیا هم یو ځېرک سیاستوال و او حالات یې هغسې ځرخول چې زړه یې غوښتل. ده چې به څه ویل یو اغېز به یې کاوه.

### ۱۷
### د ډوال دوکتورین

دولت: زموږ په خبرو کې د ډوال نوم ښکته پورته کېږي، دی پاکستانیانو ته د انسان په جامه کې شیطان ښکاري.
دورانی: زه به دغسې خبره و نه کړم. ځینې په پاکستاني رسنیو کې دغسې خبرې کوي. دی یو بل کس دی او خپله دنده ترسره کوي، ښایي چې ښه یې هم ترسره کوي. خو ده کومه توره کړې چې زموږ په کتاب کې د یادونې وړ وي؟ ان که یو چا لا په بدو یاد کړی وي.
تر ښاغلي دولت لا پخوا ما له ډوال سره دوه ځلې کتلي دي. لومړی پلا مې ورسره په ۲۰۰۵ کال کې د عمان په پلازمېنه مسقط کې لیدلي وو. دغه غونډه د هند – پاکستان غیر رسمي ډیپلوماتیکي اړیکې وې او «د ستراتېژیکو مطالعاتو نړیوال مرکز» جوړه کړې وه. هغه مهال یې د دندې د پرېښودلو ډېر وخت نه کېده او غلی ناست و.
موږ درې د استخباراتو پخواني کارکوونکي یې سره کېنولي وو، تصادفاً زموږ مایکروفونه وصل شوي نه و.یو څو شېبې وړاندې ډوال د باندې وتلی و. ما له دې خبرې ټوکه جوړه کړه، و مې ویل چې زموږ مایکروفونونه لکه په نورو غونډو کې چې به له یوه سیسټم سره وصل شوي وو، دلته نه دي وصل شوي، دولت وتلی چې دغه مایکروفونونه له یوه سیسټم سره وصل کړي.ټول له خندا شنه شول.
د « Tehelka » په غونډه کې هم و، مخکې مې هم وویل. غلی و، هر څه یې څارل، سړی یې په نیت نه پوهېده. بلاخره ده هم خبرې وکړې، سړي ته پته لگېده چې د پاکستان په تړاو د ده تجربې پر ده له یوې بلې زاویې اغېز کړی و. دی «ماني شنکر ایار» نه دی.
دولت: دی زموږ د مهمو مذاکراتو برخه‌وال و، په لومړنیو څو ناستو کې یې گډون کړی و. زه اجیت له اوږدې مودې راهیسې پېژنم. دی زما همکار و او یو ښه ملگری مې هم و. دی چې زموږ له دې ډلې سره یو ځای شو، ما «پېټر» ته وویل چې اوس دې پروسې ته یو څه هیله‌من شوی یم، دلیل مې هم دا و چې په پروسه کې داسې یو څوک راگډ شوی دی چې دی به خامخا یو ځای ته رسېږي.ټولو سرونه هسک کړل، شاوخوا ته یې وکتل، ټول پوه شو چې اشاره مې اجیت ته وه. اجیت مقامونو ته ورسېد، خو له دې پروسې سره یې مرسته و نه کړه او له دې پروسې یې پښې وایستلې.
که د ده پر وړتیاو خبرې کوو، نو دی زموږ له ډېرو ښو عملیاتي کسانو څخه دی. اجیت د کار سړی دی.
**دوام لري...**

# بوئینگ

حشمت الله نوري



دا شرکت په واشنگټن کې ویلیام ای بوینگ جوړ کړی دی. هغه دا شرکت د ۱۹۱۶ کال په جون میاشت کې د ارام اوقیانوس د هوایي تولیداتو په نوم جوړ کړ. د مخکې له مخکې تنظیم شوي پلان له مخې، د همدې کال د جولای په ۱۵مه دوی د بي اېنډ ډبلیو دوو الوتکو له لارې خپل لومړنی پرواز پیل کړ. هغه وخت کې جرج کونراد او ملوان د امریکا دوو مشهورو انجنیرانو مرسته ورسره کړې وه. د ۱۹۱۷ کال په مې میاشت کې د بوئینگ هوایي شرکت په نامه ثبت شو. ویلیام اې بوئینگ خپلې زده کړې په یله پوهنتون کې پای ته رسولې وې. په لومړي سر کې یې د لرگیو د صنعت په برخه کې فعالیت کاوه. د لرگیو د صنعت په برخه کې د نوموړي تجربو او معلوماتو د الوتکو په جوړولو کې ډېر په درد وخوړل.
په ۱۹۲۷ کال کې بوئینگ هوایي کرښه جوړه کړه. نوم یې وربانډې د بوئینگ هوایي لېږد رالېږد کېښود. وروسته بیا د ارام اقیانوس په نامه فعالیت پیل کړ، چې بیا وروسته بېرته له بوئینگ سره یو ځای شو. وروسته دوی خپل نوم د امریکا د لېږد رالېږد او الوتکو جوړولو شرکت باندې بدل کړ، دوی ځانته ځینې سټېنډرډونه وټاکل او د همغه له مخې یې خپل فعالیتونه کول. یاد شرکت وروسته د امریکا د هوایي حمل نقل ملي شرکت واخیست. وروسته په امریکا کې یو قانون جوړ شو چې د هغه له مخې به د الوتکو جوړونې او الوتکو د لېږد رالېږد شرکتونه سره بېلېدل، یانې هغه شرکت چې الوتکې جوړوي، نشي کولی چې له هغه په لېږد رالېږد کې هم کار واخلي. دوی اړ دي چې خپلې الوتکې وپلوري، نو دا شرکت هم په دریو شرکتونو ووېشل شو، د ایالاتو هوایي کرښې، د ایالاتو د الوتکو جوړولو ټکنالوژي او د بوئینگ د الوتکو جوړولو شرکت هغه درې ځانگې وې، چې بوئینگ وربانډې ووېشل شو.
له لړ مودې وروسته دوی له پان امریکن نړیوال شرکت سره یو قرارداد لاسلیک کړ. په همدې توگه نو د نړۍ د لویو الوتکو جوړول پیل شول. دوی د الوتکو ټکنالوژۍ ته پراختیا ورکړه او همدا و چې پر اوقیانوس او هوا له هېواده بل ته د مسافرو لېږد رالېږد پیل شو. په هغه وخت کې د بوئینگ ۳۱۴ الوتکې لومړنی پرواز د ۱۹۳۸ کال په جون کې تر سره شو، دا په هغه وخت کې تر ټولو ستره غیر نظامي الوتکه وه چې د ورځې لخوا یې ۹۰ او د شپې لخوا ۴۰ مسافر لېږدولی شوی. یو کال وروسته د بوئینگ تر ټولو ستر او اوږد پرواز تر سره شو، دا نو لومړنی منظم پرواز و چې الوتکې له امریکا د هغه وخت برېتانیا ته وکړ.
په ۱۹۳۸ کال کې بوئینگ پر بوئینگ ۳۰۷ ماډل الوتکې چې استرالاینر نومېده، کار بشپړ کړ. دا نو د یاد شرکت تر ټولو پر مختللې الوتکه وه، په هر ډول هوا کې یې پرواز کولی شوی، همدارنگه د وسایلو او سوداگریزو توکو د لېږد لپاره یې پوره امکانات درلودل، یادې الوتکې دا وړتیا درلوده چې په ۲۰۰۰۰ فوټه لوړه سطحه کې پرواز وکړي.
په دویمه نړیواله جگړه کې بوئینگ بې شمېره جنگي الوتکې تولید کړې. په هغه وخت کې یې ډېری کارکوونکي ښځې وې، د دوی خاوندان جگړې ته تللي وو، دوی اړ وې چې د خپلو کورنیو نفقه پیدا کړي، نو بوئینگ شرکت دوی ته د کار لپاره تر ټولو ښه ځای و. د ۱۹۹۴ کال په مارچ کې د الوتکو تولید همداسې گړندی و، په هغه وخت کې یې هره میاشت ۳۵۰ الوتکې تولیدولې، د دې لپاره چې یاد کارځای څوک په نښه نه کړي، دوی یې بهرنۍ فضا او چت د شنو وښو په څېر پوښلي او رنگ کړي وو.
کله چې جگړه پای ته ورسېده، د جنگي الوتکو بازار سوړ شو، په همدې سبب د ۷۰۰۰۰ زرو په شاوخوا کې کارکوونکي له بوئینگ شرکت وایستل شول. دوی په همدې وخت کې د استریوکرویزر په نامه الوتکه جوړه کړې وه، دوی کوښښ کاوه چې له جگړې وروسته دوی ته اوښتی زیان د دې الوتکې د پلور له لارې جبران کړي. دا الوتکه ډېره پرمختللې وه، څلور ماشینونه یې لرل، دا الوتکه په امریکا کې تر بي ۲۹ الوتکې پرمختللې او قوي وه؛ خو له دې ټولو سره سره بوئینگ چې کومه هیله له دې الوتکو لرله، هسې ونه شول، هر څه په زیان کې روان وو، دوی نو کوښښ وکړ چې د گټې لپاره نوې لارې چارې ولټي.
په ۱۹۵۰ کال کې ټکنالوژۍ یو څه پرمختگ وکړ چې همدې پرمختگ بوئینگ ته د دې وړتیا ورکړه، څو پر خپلو الوتکو ډېر کار وکړي. دوی په دې توگه خپل محصولات نور هم پراخ او پیاوړي کړل. د دوی لومړنی کار په دې ډول الوتکو کې دا و چې د راکټ پر یوه ټکنالوژۍ یې کار وکړ. یادې ټکنالوژۍ د دې وړتیا لرله چې د دښمن الوتکه په نښه کړي. وروسته وورسته یې ستر او قوي راکټونه هم په خپلو الوتکو کې زیات کړل.
په ۱۹۸۵ کال کې بوئینگ شرکت د ۷۰۷ الوتکې تولید پیل کړ. په دې توگه امریکا د روسیې د توپولف یو ۱۰۴ پر وړاندې سوداگریزه ایرلاینر وړاندې کړه چې په همدې توگه یې د انگلیس له کامت او د فرانسې د سود آویشن کاراوله سره د مقابلې وړتیا لرله. له بوئینگ ۷۰۷ سره یاد شرکت او امریکا د څلور ماشینه او قوي الوتکو څښتنه شوه، امریکا نو اوس داسې قوي الوتکه درلوده چې په یوه وخت یې ۱۵۴ کسان وړلی شوی او د نړۍ تر ټولو ستره سوداگریزه الوتکه وه. څو کاله وروروسته یې بوئینگ ۷۲۰ جوړه کړه، دا الوتکه هم چټکه وه او هم قوي وه. په دې الوتکه کې لرو او نږدې سیمو ته سفرونه کېدلی شوی.
بوئینگ کمپنۍ یوازې مسافر وړونکې الوتکې نه تولیدولې، دوی د جگړو لپاره په لوړه پیمانه هیلوکوپټر تولید کړي دي. پیاسکي هیلکوپټر په ۱۹۶۰ کال کې بوئینگ ته فرمایش ورکړل شو. د ورتول د برخې لخوا د هغه جوړولو ته اړین اقدام وشو، وروسته شینوک الوتکې هم په همدې برخه کې جوړې شوې، دغو الوتکو خپل لومړنی پرواز په ۱۹۶۱ کال کې تر سره کړ، دا څرخي الوتکه د لوړ قوت او کیفیت د لرلو له امله نن هم د نړۍ په قوي الوتکو کې راځي. ورتول کمپنۍ وروسته خپل تولیدات پراخ کړل او څه موده وروسته یې شینوک ۴۶ سي ایچ جوړه کړه. اپاچي څرخي الوتکې په چریکي جگړو کې د نړۍ تر ټولو پرمختللې الوتکې دي او په افغانستان کې د امریکا پوځ په چاپو او نورو عملیاتو کې د بریدونو په موخه کارولې هم.
بوئینگ کمپنۍ وروسته خپل کارونه پراخ کړل، د لنډ او اوږده پرواز لپاره یې په ۱۹۶۷ کال کې بوئینگ ۷۳۷ جوړه کړه، دا نو د الوتکو په ډگر کې هغه الوتکه وه چې تر ټولو ډېره وپلورل شوه، دا الوتکه تر اوسه پورې تولیدېږي، خو د پام وړ پرمختگونه یې په بېلو برخو کې شوي دي.
په ۱۹۷۰ کال کې بوئینگ کمپنۍ له یوه بحران سره مخ شوه، اپولو پروژه لغوه شوه، دا نو هغه څه وو چې دا شرکت یې سخت تاواني کړ، دوی بیا د تېر په شان پلان جوړ کړ چې د سوداگریزو الوتکو د پلور له لارې خپل زیانونه جبران کړي. خو د الوتکو د پلور او پېر بازار گرم و، مگر بوئینگ په دې بریالی نه شو چې ان په یوه کار کې یو قرارداد هم واخلي. وروسته بله ضربه چې دې شرکت ولیده، هغه دا وه چې د امریکا سنا مجلس پرېکړه وکړه چې له دې وروسته به د بوئینگ شرکت له ځینو برخو مالي او نور ملاتړ نه کوي، دا نو د دوی لپاره ستره ضربه وه، بوئینگ پرېکړه وکړه چې له خپلو ټولو څانگو ځینې کسان وباسي، یوازې په سیاتل ښار کې یې ۸۰ زره کارکوونکي له ځان سره وساتل، دا هم په همدې شرکت کې د پخواني شمېر په پرتله چې تر دې پرېکړې مخکې یې له دوی سره کار و، نیم په نیمه و. وروسته یې بوئینگ ۷۴۷ و ازمویله، دا څلور ماشینه الوتکه وه چې په یوه وخت کې یې د ۴۵۰ مسافرو د لېږد وړتیا لرله، ډېرې اسانتیاوې یې لرلې، دا نو تر ۲۰۰۱ کال پورې د بوئینگ لپاره یو ریکارډ و، تر دې دمه دا یوازینی شرکت و چې دغه ډول الوتکې یې تولیدلی شوی. په هغه وخت کې یې ۱۴۰۰ دانې ورته الوتکې تولید کړې. اوس یې بیا تر دې هم ستره او قوي ایرباس اې ۳۸۰ جوړه کړې ده.
په ۱۹۸۳ کال کې د دې شرکت اقتصادي حالت له سره وغوړېد، په همدې کال کې یې مسافر وړونکې ۷۳۷ زرمه الوتکه تولید کړه. وروسته چې کله د الوتکو او هوایي سفرونو مینه‌وال ډېر شول، نو په دې برخه کې رقابت پراخ شو، بوئینگ هم د دې رقابت چې په اصل کې له اروپا پیل شوی و، یوه برخه وه.
د ۱۹۹۴ کال په اپریل کې بوئینگ مسافر وړونکې جیټ الوتکه جوړه کړه، دغې الوتکې دوه ماشینونه درلود او نوم یې هم جیټ بوئینگ ۷۷۷ و. یادې الوتکې له ۳ تر ۴ سوه مسافر لېږدولی شوی. دا نو داسې الوتکه وه چې په هغه وخت کې یې د تر ټولو اوږد سفر نوم وگاټه، د اروپایي الوتکو پر وړاندې رقابت ته ووتله.
په وروستیو کلونو کې بوئینگ د ایرباس کمپنۍ له پراخ رقابت سره مخ دی، له ۱۹۷۰ کال راهیسې ایر باس د خپلو الوتکو تولید ته زور ورکړی، دوی ډول ډول الوتکې جوړوي. د بېلگې په توگه، ایرباس اې ۳۲۰ هغه الوتکه ده چې په پراخه توگه له نوې ټکنالوژۍ برخمنه ده او کولی شي تر ډېره د مسافرو په لېږد رالېږد کې اغېزمنه تمامه شي.
بوئینگ کمپنۍ دمگړۍ په پراخه توگه د الوتکو په تولید کې کار کوي او په دې برخه کې یې ډېر پرمختگونه کړي دي. د امریکا د پوځ له لوري په افغانستان کې کارېدونکې ډېری الوتکې هم د همدې شرکت محصول دي.
دا کمپنۍ د خپل عمر په اوږدو کې د ډېرو مدیرانو له لوري اداره شوې چې هر یوه یې په خپلو هڅو سره دا شرکت تر یوه ځایه رسولی دی. د بوئینگ شرکت د تر ټولو شهکار محصول بوئینگ ۷۴۷ مخترع جو ساتر د رواني میاشتې په لومړۍ نېټه ومړ. نوموړي په دې شرکت کې کلونه کار کړی دی، عمر یې ۹۳ کاله و، جو ساتر د ۱۹۲۱ کال په مارچ کې د امریکا په سیاتل کې پیدا شو. هغه د همدې شرکت په شاوخوا کې لوی شو، ده ډېره هیله لرله چې الوتکې جوړې کړي، بیا یې د امریکا په واشنگټن پوهنتون کې زده کړې وکړې. هغه پر ځان باور درلود چې یوه ورځ به د نړۍ تر ټولو ښکلې او قوي الوتکه جوړوي. نوموړی له هغه وروسته راغی په همدې شرکت کې یې کار پیل کړ او بوئینگ ۷۴۷ یې جوړه کړه چې د خپل وخت تر ټولو ستره قوي او ښکلې الوتکه ده. دې الوتکې د اسمان د ملکې لقب وگاټه او جو د اسمان د ملکې د پلار په نامه و نومول شو. یادې الوتکې دوه پوړونه درلودل چې تر ۴۵۰ کسه مسافر یې ځایولی شوی، دا الوتکه اوس هم د نړۍ تر ټولو مشهوره او محبوبه الوتکه ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
| --- | --- |
| $ | ٧٧,٢٥ |
| € | ٩٣,٥ |
| Rp. | ٤٨٠ |
| ₹ | ١٠٥٥ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ١٠٤,٦ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# فردي ارزښتونه څه دي؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ارزښتونه لکه لویه هینداره؛ موږ ته تلقین راکوي چې کوم شی زموږ لپاره ښه او کوم شی زموږ لپاره بیا ښه نه دي. موږ هر یوه ته بیا بېلابېلې سپارښتنې لري. همدغه څه د دې لامل کېږي چې د انسانانو ژوند سره متفاوت وي. همدا د نظام متفاوتوالی خپله د انسانانو ارزښتونه دي.

په ورځني ډول موږ هره ورځ ځینې کارونه او کړنې تر سره کوو، څو خپلو ارزښتونو ته ورسېږو او که دغه کارونه زموږ له ارزښتونو سره همغږي وي، له هغه کار خوند اخلو او که ور سره همغږي نه وي، بیا نو هغه ده چې د دې کارونو او کړنو له تر سره کولو ډډه کوو. یانې زموږ موخې او کړنې زموږ لپاره وسیله ده څو وکولای شو له دې لارې خپلو ارزښتونو ته ورسېږو.

د بېلگې په توگه، که د چا تروش خوند خوښېږي، په ډېر احتمال سره یې تروش لیمو، تروش الو او تروشه پښی (رواش) هم خوښېږي؛ ځکه د همدې پر مټ تروش خوند ته رسېدای شي. په دې بېلگه کې تروش خوند زموږ د ارزښتونو په مانا دی او تروش لیمو بیا د وسیلې (موخې)، څو تروشې مزې ته ور باندې ورسېږو. دلته باید یو بل ټکی هم زیات کړو، هغه کسان چې تروشه مزه یې خوښېږي او خوند ترې اخلي، په دې مانا نه ده چې خواږه، تُند او نور خوندونه یې نه خوښېږي؛ بلکې نورو خوندونه ورته تر تروش خوند په ټیټه کټه‌گورۍ او درجه کې دي.

**د ارزښتونو تضاد**

ځینې وخت موږ د ځان لپاره داسې موخې ټاکوو چې له ارزښتونو سره مو سر نه خوري. د بېلگې په توگه، هغه کسان چې تروش طعم خوند ورکوي او دی د ځان لپاره د ترخه مرچ خوړل ټاکي، دغه کار د دې لامل کېږي چې د ارزښتونو او موخې تر منځ یې تضاد رامنځ ته شي او د دې لامل شي چې یاد کس له خپل کړي کار هېڅ خوند وانه خلي او تر څنگ یې درد او ځور هم ویني.

د ارزښتونو او هغو کارونو تر منځ تضاد چې تر سره کوو یې بدې پایلې هم لرلی شي، چې تر ټولو روښانه هغه د ارامۍ او سکون نه درلودل دي. د بېلگې په توگه، د یوه چا لپاره تر ټولو لومړنی ارزښت دا دی چې معلومه او دایمي دنده ولري، خو ده بیا هم د ځان لپاره روز مزد کول ټاکلي وي، د دې کار پایله ښکاره ده چې دغه کس هېڅکله هم د ارامۍ احساس نه شي کولای.

دغه کس چې شغلي امنیت (دایمي او ښه دنده) ورته تر هر څه مهمه وي، هېڅکله نه شي کولای له خطر ډک کار ته لاس واچوي، خو له دې سره سره ده داسې کار ته مخه کړې ده چې عملاً ریسک او خطر پکې موجود دي، په دې مانا چې کېدای شي یوه ورځ کار ورته پیدا شي او یوه ورځ هم نه او په ټوله کې یې د دندې امنیت نه دی خوندي شوی، مانا دا ده چې دایمي دنده نه لري.

**څنگه خپل ارزښت ومومو؟**

مخکې له دې چې خپل ارزښت وټاکو، نو لازمه ده چې په څو ټکو باندې وپوهېږو.

۱. موږ کولای شو څو اصلي ارزښتونه او بیا د هره یوه لپاره یې څو فرعي ارزښتونه په پام کې ونیسو. کېدای شي د دندې درلودل زموږ اصلي او د ژوند یو ارزښت وي او د دې ارزښت فرعي ارزښتونه بیا کېدای شي په کار کې صداقت، رښتینې هڅه او ژمنتیا وي.

۲. ارزښتونه کېدای شي موقعیت ته په کتو بدلون وکړي ان کېدای شي بیخي ور باندې پوه نه شو، چې بدلون یې کړی دی، نو لازمه ده چې په اگاهانه ډول مو خپلو ارزښتونو ته پام وکړو. د بېلگې په توگه، یو څوک مینې ته ډېر درناوی لري او ارزښت ورکوي، خو کله چې متوجه کېږي خیانت ور سره شوی دی، کېدای شي په هماغه شېبه کې یې ټول هغه باورونه چې د مینې په اړه یې درلودل، تر پوښتنې لاندې کړي. په دې صورت کې نه یوازې دا چې نور مینه ورته بې ارزښته ښکاري ان کېدای شي د دې ارزښت پر وړاندې ودرېږي.

۳. ځینې وخت موقعیت ته په کتو دا ایجابېږي چې په اگاهانه ډول خپلو ارزښتونو ته بدلون ورکړو. د بېلگې په توگه، کېدای شي یوه کس ته دنده ان تر خپلې کورنۍ هم با ارزښته وي او د کورنۍ اړوند په ډېرې مراسمو کې لکه کلیزه، شیریني خوري، واده او نورو کې چې باید حضور ولري، غیر حاضر وي. دغه څه کېدای شي له کورنۍ سره د اړیکو د سړېدو او کم رنگه کېدو لامل شي او خبره ان بېلوالي ته ورسېږي؛ ځکه د ژوند ملگری (خاوند / مېرمن) او اولادونو ته کورنۍ تر ټولو لوړ او لومړنی ارزښت دی؛ خو د هغه لپاره بیا دنده تر ټولو لوړ او لومړنی ارزښت دی، له همدې کبله د ده او کورنۍ تر منځ یې اختلاف منځ ته راځي. دلته نو تر ټولو ښه پرېکړه دا کېدای شي چې ارزښتونه د لومړیتوب له مخې درجه بندي کړي او کورنۍ تر دندې مخکې کړي او په لومړي قدم کې ځای ورکړي.

پورتنیو څرگندونو ته په کتو اړتیا ده چې خپل ارزښتونه مشخص او وټاکو. د دې کار لپاره ښه ده چې ویې لیکئ څو یې ښه درک او د لومړیتوب له مخې درجه بندي کړئ.

**۱. ستاسو د ژوند ارزښتونه څه دي؟**

۲. ستاسو اعتقادات او باورنه کوم دي؟

د بېلگې په توگه: کېدای شي یو څوک ووایي، زه په دې باور یم چې باید په دنده کې صادق اوسم، نو صداقت د هغه لپاره یو ارزښت دی. کېدای شي یو بل څوک بیا ووایي، زه په دې باور یم چې ټول خلک باید تل د خپلې دندې اړوند برخه کې د زده کړو په لټه کې اوسي، وړتیاوې یې لوړې کړي او پرمختگ وکړي، نو د دې کس لپاره بیا زده کړې او پرمختگ ارزښت بلل کېږي. اوس نو همدغه کس خپل ازاد او فارغ وخت د دندې اړوند زده کړو ته ځانگړی کوي.

**۳. روغتیا درته مهم ده او که کورنۍ؟**

**۴. پیسې درته مهمې دي او که روغتیا؟**

د هغو ارزښتونو له ډلې چې مشخص کړي مو دي ۳ ارزښتونه چې لوړ لومړیتوب درته لري، مشخص کړئ. له هغه وروسته دغه درې ارزښتونه بیا بیا له ځان سره یاد او تکرار کړئ، څو مو یې ناخوداگاه ذهن د یوه ارزښت په توگه ومني. کله یې چې ومنل، نو په ناخوداگاه ډول به شرایط هم همداسې راشي چې دغه درې ارزښتونه په لومړیتوب کې ځای ونیسي.

## مذاکراتي پلاوي: د سولې لپاره رامنځته شوی فرصت باید له لاسه ونه وځي

د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکراتي پلاوی وایي، چې د طالبانو مذاکراتي پلاوي د مذاکراتو پر مېز د لنډ مهاله حکومت موضوع نه ده مطرح کړې او وایي، که یې له مذاکراتو بهر مطرح کړې وي، تبلغاتي جنبه لري.

د دغه پلاوي یوه غړي رسول طالب په یوه انلاین خبري ناسته کې ویلي چې په اوسنیو شرایطو کې د لنډ مهاله حکومت بحث نه دی مطرح شوی.

هغه زیاته کړې: «که طالبان د ویلو څه نه لري، خبرو ته وړاندې شي او خبرې رسمي مطرح کړي. د هغه نه به غیر ستانکزی د خبرو پر مېز غیر حاضر دی، ولې په مسکو کې یې ادعاوې مطرح کړې چې تر ډېره د عامه افکارو د انحراف لپاره دي.»



نوموړي دغه راز زیاته کړې چې د بین الافغاني مذاکرات بهیر تر دې مهاله په ټپه نه دی درېدلی، خو په وینا یې وقفه پکې رامنځته شوې، چې په وینا یې، مسوولیت یې د طالبانو پر غاړه دی.

یاد پلاوی ټینگار کوي، چې د افغانستان د ستونزې هوارې لپاره رامنځته شوی فرصت باید له لاسه ونه وځي. رسول طالب همدارنگه ویلي چې د لنډ مهاله حکومت په اړه بحثونه تر دې مهاله کوم بهرنې هېواد هم په رسمي ډول نه دي مطرح کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو د قطر دفتر مرستیال او د طالبانو د سولې د مذاکراتي ټیم غړي شیرمحمد عباس ستانکزي د تېرې جمعې په ورځ په مسکو کې خبریالانو ته وویل: «که نن ورځ اشرف غني له جگړې څخه لاس واخلي او ووایي چې استعفا کوم او د سولې لپاره قرباني ورکوم، موږ هم د یو نوي حکومت لپاره خبرو ته چمتو یو... په همدې خاطر هم مذاکرات کوو.»

بلخوا د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکراتي پلاوي یوې بلې غړې شریفه زرمتۍ هم د عباس ستانکزي څرگندونو ته په غبرگون کې ویلي چې د نورو هېوادونو په استازیتوب د طالب استازو څرگندونې دوی ته هېڅ اهمیت نه لري او ولسمشر غني د خلکو په رایه واک ته رسېدلی دی.

## رحماني: د واک د بقا لپاره د ښکېلو لورو جگړه د منلو نه ده

د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني وایي، چې د روانې جگړې له کبله هره ورځ لسگونو افغانانو ته مرگ ژوبله اوړي، خو حکومت او طالبانو بیا د واک او امتیاز ترلاسه کولو لپاره د سولې بهیر له خنډونو سره مخ کړی دی.

رحماني زیاتوي، چې روان وضعیت نور ورته د منلو نه دی او دواړې خواوې دې ژر تر ژره د سولې په خبرو کې په ټپه درېدلی حالت پای ته ورسوي.



نوموړي دغه راز په دې تړاو یوه ۲۱ کسیز کمېسیون ته دنده سپارلې چې د سولې په ټپه درېدلی حالت له نږدې و ارزوي. د رحماني په خبره، یاد کمېسیون به د مصالحې له عالي شورا، د سولې وزارت، سیاسیونو او د سولې له دواړو مرکچي پلاوو سره په دې تړاو خبرې وکړي، ترڅو په خبرو کې روان بن‌بست پای ته ورسېږي.

رحماني چې د یاد کمېسیون مشري هم کوي، ویلي چې په دې وروستیو کې د افغان سولې مذاکرات د نامالومو دلایلو له کبله له خنډ او ځنډ سره مخ شوي دي. هغه ټینگار کړی چې له دې وروسته به د ولسي جرگې یاد کمېسیون د سولې په تړاو په ټولو مواردو کې په مستقیم توگه دخیل وي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د فبروری لومړۍ |۶۷۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | ۱۷ | ۲۱ | ۱۷ | ۲۰ | ۱۱ |
| ۱- | ۱- | ۲ | ۵ | ۶ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰۶:۵۲ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۳:۴۴ | ماښام ۰۵:۲۳ | ماخوستن ۰۶:۴۹

## نړی



ایران: د ۲۰۱۵ز کال اتومي تړون پر خپل ځای دی، هر ډول بدلون پکې د منلو نه دی

۳

## تازه شمېرې: په امریکا کې کرونا د مړو شمېر له ۴۵۰ زرو کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۳میلیونه او ۲۱۸ زره او ۲۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۲۳۱زره او ۲۰۲ کسان مړه شوي او نږدې ۷۵ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲٦ میلیونه او ٦۵۵ زره او ۷۴۰ ته رسېدلي او ۴۵۰ زره او ۳۸۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰میلیونه او ۷۴۷ زره او ۹۱مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ۱۷٦ زره او ۹۷۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دری میلیونه او ۸۵۰زره او ۴۳۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د دری میلیونه او ۷۹٦ زره او ۸۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په روسیه د حکومت ضد لاریونونو پرمهال له زرو زیات کسان نیول شوي

د روسیې په پلازمېنه مسکو او نورو سیمو کې پولیسو له زرو ډېر لاریونوال نیولي دي. په روسیه کې دغه پراخ لاریونونه له تېرې اونۍ راهیسې پیل شوي دي. لاریونونه وروسته له هغې پیل شول، کله چې د روسیې پولیسو د یا هېواد د حکومت سرسخته مخالف الکسي ناوالني بندي کړي.

ناوالني د جنورۍ په ۱۷مه د مسکو په یوه هوایي ډګر کې هغه مهال ونیول شو چې په جرمني کې له درملنې وروسته هېواد ته راستون شوی و. جرمني وایي، ناوالني تېر کال د «نویچوک» په نامه د پخواني شوروي اتحاد د وخت په کېمیاوي وسلې مسموم شوی و. نویچوک هغه زهري مواد دي، چې برېټانیا وایي، په ۲۰۱۸ز کې هغه او د هغه لور پرې مسموم کړای شوي وو.

ناوالني د روسیې جمهور رییس پوتین تورن کړی، چې د ده د وژلو امر یې کړی دی، خو کرېملین بیا دغه تورونه رد کړي دي. د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، پولیسو تېره ورځ په ټوله روسیه کې له زرو زیات لاریونوال نیولي دي. پولیسو ویلي چې دغه اعتراضونه غیرقانوني دي او ورته اجازه نه ده ورکړل شوې او باید چې مخه یې ونیول شي. روسي چارواکو دا هم ویلي دي چې دغه لاریونونه کولای شي، چې د کروناویروس د خپرېدو سبب شي.

## ظریف: از یک دولت فراگیر اسلامی در افغانستان حمایت می کنیم



وزیر خارجۀ ایران، در دیدار با معاون سیاسی گروه طالبان گفته است که از یک دولت فراگیر اسلامی باحضور همه قومیت‌ها و مذاهب در افغانستان، حمایت می کنند.

هیئت دفتر سیاسی طالبان به رهبری ملا عبدالغنی برادر که به تهران رفته است، دیروز ۱۲ دلو با جواد ظریف امور خارجۀ ایران دیدار و گفتگو کرده است.

داکتر محمد نعیم سخنگوی دفتر قطر طالبان در صفحۀ تویترش نوشته است در این دیدار که در فضای خوب برگزار شد، مسائل مربوط به دو کشور مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

موصوف افزوده است که همچنان دراین نشست پیرامون وضعیت افغانستان، مذاکرات بین الافغانی، عملی شدن کامل توافقنامه دوحه، و ضرورت صلح و امنیت در افغانستان و منطقه نیز بحث هایی صورت گرفت.

به گزارش خبرگزاری تسنیم ایران، در این دیدار هردو طرف در مورد مسائل جاری منطقه، اوضاع داخلی افغانستان و چگونگی پیشبرد روند مذاکرات صلح این کشور، تبادل نظر کردند.

محمد جواد ظریف وزیر امور خارجه ایران، در این دیدار با اشاره به اقدامات امریکا در افغانستان تاکید کرد و گفت که امریکا میانجی و حکم خوبی نیست.

موصوف اظهارداشت: «ما از یک دولت فراگیر اسلامی باحضور همه قومیت‌ها و مذاهب، حمایت می کنیم و آن را ضرورتی برای افغانستان می‌دانیم.»

وی گفت مردم افغانستان، از شما هستند و نباید در عملیات‌ها هدف قرار گیرند. قبل ازین، ملا برادر با علی شمخانی رئیس شورای امنیت ملی ایران نیز دیدار نموده بود.

## ژوند

## موټرولا نوی ځیرک موبایل بازار ته وړاندې کړ




موټرولا کمپنۍ خپل نوی ځیرک موبایل چې ایج ایس (Motorola Edge S) نومول شوی، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل پر پیاوړو ځانګړنو سربېره حتی له چینایي ځیرکو موبایلونو څخه هم ارزانه دی. دغه ځیرک موبایل به تر ټولو وړاندې چین کې خرڅلاو ته وړاندې شي. موټرولا ایج ایس له ۵جي څخه ملاتړ کوي او ٦،۷ انچه ایل سي ډي ډوله مخپاڼه لري، چې ۹۰ هرتز ریفرش رېټ او ایچ ډي ار۱۰ څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۷۰ ډوله پروسېسر ورکړل شوی دی. موټرولا ایج ایس به ٦/۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸/۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ولري او پکې ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې، چې له ۲۰ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې ۴ کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي کامره، ۱٦ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل، ۲ مېګاپکسله فوکس ډېپت سېنسر او ټي او اېف سېنسر پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې دوې کامرې لري چې ۱٦ مېګاپکسله اصلي کامره او ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل کامرې هم لري.

## د وړتیاوو پېژندل مو د پرمختګ سبب ګرځي




د هر انسان د بریا او پرمختګ ګامونه د خپلو وړتیاوو له پېژندلو پیلېږي، خو که موږ ځان ته په ټېټه سترګه ګورو، ځان ته ارزښت ورنه کړو، وړتیاوې مو را ونه سپړو، نو هغه ده چې هېڅ ځای ته به هم ونه رسېږو. ځینې هغه انسانان چې یو وخت یې په لوړو پوستونو کار کړی، خو دویم ځلي ورته چانس نه دی برابر شوی چې په هغه ډول موقف ته ورسېږي، هغه ده چې د کمترۍ احساس کوي او ځان ورته بې ارزښته ښکاري، په داسې حال کې چې داسې نه ده، یوازې هغه غرور چې لري یې د دې اجازه نه ورکوي چې تر هغه په ټیټ موقف کې کار وکړي، هغه هم د دې لپاره چې له ځان سره وایي، خلک به بیا څه وایي؛ خو ایا دې کس تر اوسه په دې فکر کړی، همغه خلک چې وایي زما په اړه به څه فکر کوي تر اوسه یې د یوې ستونزې د حل په برخه کې له ده سره مرسته کړې ده؟ نه هېڅکله هم نه! هېڅوک هم دومره وزګار نه دي. هر سړی په ځان پورې اړوندې وړتیاوې لري، یوازې دومره لازمه ده چې ویې پېژني او را ویې سپړي.

STUDENT'S
ACCOUNT



د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډېبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank